د سبوڼڅا

مجاور احمد زیار

مجاور احمد زيار

د سبرونو نڅا

(اتم شعري غونډ)

PROPERTY OF
ACKU
3492

کب ، ۱۳۷۱

زړه ته را نژدې ،
له سترګو لرې
پښتیان ته
په اورنۍ پلرنۍ مینه

د کتاب نوم : د سبر ونو نڅا

شاعر : پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

خپرندوی : د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه

ګڼه : ۲

کمپوزر : سید حسین هاشمي

چاپ شمیر : ۵۰۰ ټوکه

چاپ ځای : شرکت چاپخونه ، لاهور

نیټه : کب ، ۱۳۷۱ - مارچ ، ۱۹۹۳

لیک : کاتب ښیراز

انځور : اشنا

نیولیک

سرلیک	مخگنه	سرلیک	مخگنه
پرېږدئ چې لمر وځلي	١	د ګلو کروندې	٤٠
څېرې	٥	د مرغلرو باران	٤١
تلبهانده بهیرونه	٦	زیړی	٤٢
د لمر اورتون	٧	واټن	٤٣
تورو سره	٩	غاټولو اورېدیو ته سلام	٤٤
د ریا څادر	١١	د سپیدو په ورا کې	٤٦
منګنې شیبې	١٣	هغوی ...	٤٧
حج	١٤	د وینو ګل کر	٤٨
د اوښکو پرتم	١٦	د باور آیتونه	٤٩
رودونه او برېدونه	١٧	زه به ولاړ نه شم	٥٠
د الوت په تکل	١٨	د سباوون په ذهن کې	٥٣
سر اور	٢٠	د لمر اورتون	٥٥
څانګغوځ بلبلان	٢١	پسرلنۍ	٥٨
پیلامه	٢٣	ناباوري	٦٠
ګلړه مینه	٢٥	تیر هیر	٦٢
خوب	٢٦	د سبر ونو نڅا	٦٣
منښت	٢٧	پر وچوبه ایمان	٦٥
زما شعر	٣٠	د سباوون تر کلي	٦٦
زما ښایسته کونړه !	٣٣	پیغام	٦٧
د اوښکو رڼوب	٣٧	«...»	٦٨
د سپیدو سیند	٣٨	زمولي پاڼې	٦٩

سرلیک	مخکنه
د گلو امیل	٧١
ننني یادونه	٧٢
زمولږ نغمه	٧٣
ترهیدلې ترانې	٧٦
زمولې شیبې	٧٨
د فریاد لاسونه	٧٩
ویرنه	٨١
کنګلې پرخې	٨٣
د ذهن پر اوبجه	٨٥
ځانله ځاني	٨٦
واورین شال	٨٧
تویه تللې وینه	٨٩
د پنجرې ور	٩١
ایمان	٩٣
مرورې خنداوې	٩٤
پسرلنۍ سیلۍ	٩٥
د پلوشو څپې	٩٨
د موسکا څپې	٩٩
د څاڅکو ترانې	١٠٢
ترشا پلونه	١٠٤
توره کیږدۍ	١٠٧
پناوړي	١٠٩
د خوشال پر قبر	١١٠
د سنګلا اپولو	١١٣
د واتړنونو خزان	١١٥
خام‌بندونه	١١٦

بسم الله الرّحمن الرّحيم

پرېږدئ چې لمر وخلي

پرېږدئ
چې لمر وخلي
پرېږدئ
چې لمر وخلي
پرېږدئ يې چې ورانګو ته ،
زمولي غوټۍ وخاندي...
پرېږدئ
چې لمر وخلي
پرېږدئ
چې لمر وخلي !!!

* * *

پرې ،

چې د لمرينو پلوشو باران

سا پو کړي په غرونو او رغونو کې

ويښوي اوښکې د کنګل واورو

وچلوي ژوند په مړو رګونو کې

يون او خوځون را ولي ،

نوې ژوندون را ولي ...

پرېږدئ،

چې لمر وځلي

پرېږدئ يې چې وړانګو ته ،

زمولې غوټۍ وخاندي ...

پرېږدئ

چې لمر وځلي

پرېږدئ

چې لمر وځلي !!!

* * *

پرې ،

چې سيندنۍ څپې

مستې ژوندنۍ څپې

وبولي د ژوند نغمې

شاړو وچو دښتو ،

چمنونو ته

مړاو وبنجرو

او ګلکڅونو ته

سیال شي بیا د گلو جوړ،
شور پرې د بلبلو جوړ ...
پرېږدئ
چې لمر وځلي
پرېږدئ یې چې وړانګو ته،
زمولې غوټۍ وخاندي ...
پرېږدئ
چې لمر وځلي
پرېږدئ
چې لمر وځلي !!!

* * *

پرېږدئ
چې د شپې اوښکې
وڅاڅي پرمخ د سباوون دلته
پرخه شي
او وخيږي په ټال د طلا یې شغلو
هسکې د لمر سیمې ته
شین پر شین هر خواته د لمروړانګې شي
ډکې له میوو د ونو څانګې شي،
رنګ واخلي
او خوند واخلي،
ومومي
بیا ژوند نوی ...

پرېږدئ

چې لمر وخُلي

پرېږدئ بې چې ورانګو ته ،

زمولنې غوټۍ وخاندي

پرېږدئ

چې لمر وخُلي

پرېږدئ

چې لمر وخُلي !!!

١ - ١٠ - ٦٧

ځيږۍ

زه هماغه غرنۍ کلکه ځيږۍ يم
بې پروا له باد بارانه
ږلۍ، واورې او توپانه ...
غځيدلې مې دي جرړې
- لکه پلې رګونه -
کښته په ژورو کې د پربنو
او ښاخونه مې له ښاخه ...
- نه له نياز و له فرياده -
د اسمان پر لورې پورته ...
زه هماغه غرنۍ زړه ځيږۍ يم
چې له تېکو تندرونو ،
له لمبو لمبو اورونو
يم راوتې روغه رمې او سر لوړې
په شنو پاڼو ځانګو ښېرانګو او اغزيو
ښکارندوی د تلښيرازه پسرلي
او بې مرګۍ يم .

١٤ - ٤ - ٦٩

تل بهانده بهیرونه

هغه راکیوته
له کلي د اسمان د ښایست
لکه سپوږمۍ د پلوشو په وریښمین تال
زما د مینې پر بام
او ورونیلې یې زما د بې سهاره اوږدو شپو
د تور تمونو کوڅې
نورې به تویې خپلې اوښکې نه کړم
- لکه نیمزالې شمه -
د ویر ژړلو نهیلیو د تیارو پر لمن .
زه ننګیږم په هڅو پلو هغه لمرینه رڼا ،
آ د سپیڅلي پاك ارمان جاویداني تودوخه
چې بدلوي زما د برم د وړانګینې اړخونه
زما د مینې د سبا د لمرین ښار
د پلوشو له تلبهاندو بهیرونو سره .

۲۰ - ٤ - ٦۹

د لمر اورتون

مه شه

چې رود د کهکشان کړي غلی

د اهورا د هسك د لمر پاك و سپيڅلی

تلبلاندي اورتون

او دا د ځمکې تول پاك زړي مومنان اور پښتي

وسولوي

له نهيليه خپل تندي

د زره تشت د مړو نغرو پرخو گلنونو باندې .

*   *   *

پرېوده ،

لمبې د بيزواله اګنيو

لکه سر کښي قهرژلي او رشيند ،

چې تك تور کاڼي له يو مخې پرويلوب

بدلوي

تور تپې خيري د داپوا د ګناهونو

واړه وسوځوي

او کړي ځپاره بيرته وازره

– لکه د خدای د لورينې د جنت پرستی –

د اهوارا د سپيڅلتيا د تلبهاندې سر چينې

د اسمانونو د ستونځونو پرلور !

۱۰ – ۵ – ٦۹

تور و سره

څه بې توپيره د بد وردې زمانې
د ناکردو په وړاندې ،
په غړولو سترگو گورو ورته
چې کړي زموږ پر برخليکونو لوبې
او زموږ سپينې تښتيدلې ورته .

* * *

څه کوو ، شوي پر موږ
چې له خپل سيوري نه هم ويره لرو ؟
ولې دې اوسو هسې ،
له خپله ځانه پردي ؟
ولې دې اوسو هسې ،
بيواك بيوسې پاتې ؟

* * *

که څوک جلاد موږه پردار خیژوي ،
نو له خپل ځان سره رسی له خپله کوره وروړو
او که ژوندي مو بیا پر گور ورمنډي ،
نو ورکینو به مو په خپلو لاسو .

*   *   *

څو به مو غوښې سنکاروي ((تور لیوان))
او پاتې شونې وچ هډونه مودې
((سره درنگه خور)) شپیلوي !
هغوی د تیر مهال ((تور مخي دیوان)) ،
او دوي د نوي پیر ((سورمخي پیریان)) !

۱۳ - ۵ - ۶۹

د ویشتلیو په یاد :

د ریا څادر

د دې اسمان په شنه نیلي څادر ومه غولیږئ ...
د اسې شپه نه ده
چې د بې شمیرو رڼو ستورو ویني توی نه کاندې
او
– د شفق په نامه –
پرې خپل لاسونه تر څنګلو پورې
ونه لړي

*　*　*

د دې اسمان په شنه نیلي څادر ومه غولیږئ ...
د اسې شپه نشته
چې له سکڼلي تور تیاره ماښام یې
بیا تر شنې خړې د ګهیځه پورې
په دې زرینو نور شینډونکو الوتونکو پسې
د تور تمو لښکر را کښلی نه وي
او د تور تم د رڼاوي په جرم یې
یو پر یوه له تیره تیغ د مرګ ایستلی نه وي .
* * *

د دې اسمان په شنه نیلي څادر ومه غولیږئ
چې رڼا ورځ شي
او لمر وځلیږي
دوي
– د ګمنځچارو رڼا کارو غوندې –
د خپلو تورو ګناهو د پټولو په نیت
په دغه شنه نیلي څادر کې ځان را ونغاړي بیا ...
د دې اسمان په شنه نیلي څادر ومه غولیږئ
چې پکې نغښتې سرې رڼې د بیګناهو توئې شوو وینو .

۱۱ - ۷ - ۶۹

منګنی شیبې

را ځي ورو ورو
سړې سړې
سترې ستومانه منګنۍ شیبې ...
دا د پاڼریژ استازې ،
دا نابللې میلمنې د چمن .
زړه مې د باغ پر ناوکیو سوځي
چې پر ناموس د بنیرازۍ یې
توند بادونه بلوسي
د دنګو دنګو سپیدارو زیړې زیبنلې پاڼې
رېږي او رژي ترمې ترمې
له تاړاك د منګنیو ربړو
او را تویېږي د نیستۍ پر تورو خاورو باندې .
راځي ورو ورو
سړې سړې
سترې ستومانه منګنۍ شیبې ...
خو ،
په خزان زمولي ګلبڼ زما د مینې کې لا
ستا د یادونو د لمرینو پلوشو پسرلي
را ټوکوي تك سره بامي ، رېدې ، لاله ګلونه .

۱۵ - ۷ - ٦۹

حج

ستا د ښکلا د ناز ښکالو په زمزمې چینه کې
لامبي زما د پاکې مینې د شعر ښکلې حورې
چې د کعبې د سپیڅلتیا د لمر د خدای د ځمځ طواف په نیت
احرام وتړي .

پريږده ،

– د خدای په کور کې –

زما د شعر دغه سپیڅلې مینه وړې حورې
د سر په سترګو له نږدې وګوري
چې د بیلارو ((امتیانو)) د تور تپو ګناهو له اغیز
د ((اسود)) تیږه هسې نوره هم توریږي پسې .

پرېږده ،
زما د جنتي مينې د شعر پرتمينې حورې
هلته ور ورانډې د ((مينا)) په پښو کې
ننداره وکړي د جمرو د کاڼو
- آ د سجيل د سرو سکروټو کاڼو -
له هرې لورې چې راووري هسې
پر تورو دربلو شيطاني ارواوو .
پرېږده ،
زما د خليلي مينې د شعر نازولې حورې
کړي د لوي خدای په پاك سپېڅلي جنتي حرم کې
په انګازو کې د ((تکبير)) او د ((لبيك)) د نارو
دا خپل ځانونه د روږ،
دا خپل ځانونه قربان !

٢٣ - ٧ - ٦٩

د اوښکو پرتم

وسپرل زما د ژوبل زخمي زړه
په نارنج باغ کې
د ځلمیو هوسو د پرهرونو سوو څپیکو
ستا د پیغلو تلوسو د سرکو شونډو
گلکخونه
او زما د څاڅکو څاڅکو ستورو اوښکو
له پرتمه
ستا د هسك له تیزی ذهنه
شوه د لمر چینه بهانده ...
اخ ،
چې څومره سپرلنۍ ښکلې رنگینې شان شیبې
زما او ستا د خوان زمولې گډې میني
له ور بویه هسې لیږدي بې اغیزې
د نیستۍ د نشت اباد د دشت پر لورې !

۱۲ - ۸ - ٦۹

رودونه او بریدونه

دومره اوښکو ،
دومره وینو
کړې بهاند زما او ستا ترمنځ
لوی سیند د بیلتانه
چې کړو بیل یې یو له بله
او د یو بل د لیدلو په ارمان ...
هو کې ،
زه او ته جلا شو په بهاو د اوښکو وینو
یو له بله
او را وکښله زما او ستا ترمنځ یې
یوه بیلنده سره پوله ...
اوس نو ما او تا ته پاتې دي یوازې
تشې پلې او وچ هډونه
چې یو پول کړو ځنې جوړ
پردې سیند د اوښکو وینو ،
پردې پوله زما او ستا د بیلتانه ...
او په دې توګه نور پاك کړو تر دا منځه واټنونه ،
له تاریخ سره مو نور دغه ردونه او بریدونه !

۱ - ۹ - ٦۹

د الوت په تکل

د غه څه وشول اسمانه !
چې دا ستا په شنه ورشو کې
ګلګخونه د سپیدو په وینو رنګ شول
او د لمر د سبار پر لورې
قافلې د سهار لوټ شوې ؟
هرې خواته بس د ستورو جنازې دي
چې د وینو د څپو پر اوږو لیږدي
تور تیاره او ساړه زغومي د نیستۍ ته .
د غه څه وشول
په څمکې !

چې دا ستا په ویړه غیږ کې
جلوه‌لي وچ ډاګونه ،
تورو ګورو شنه ځنګلونه ،
مست څپاند سمندرونه ...
هسې ډوب او ترې تم شول
لکه ونغري له مخې
نهنګان د غرڅپو د توپانونو
له سپرلو ډکه بیړۍ .
په زما د سپین سپیڅلي نورینځلي سباوون
د باور شعره !
نور د ژغور د هسکو ستونځو د الوت په تکل
پرانیزه دا خپل مراوي څانګونه
او له ځان سره ما هسک کړه
له دې مړې خاورینې ځمکې ،
له دې مړه ډبرین هسکه
د لمرونو یوې نوې ښایسته ښکلې نړۍ ته !

۹ - ۹ - ٦۹

سر اور

ستا د مینې د گلبڼ د پسرلي
په پسته غیږ کې
ما د مینې د ناتار د نیمو شپو ویرونه هیر کړل .
نور به وسپړي
غوټۍ غوټۍ سرې وینې
د بلهارو هدیرو مې
ستا د ناز سنکلا د ناوې د ډولۍ
سراور لپاره .
ما ته مه راوړه پیغام
د سبا ورکو تورو شپو نور ،
یوسه نور زما سلام
د خونړیو تورو وریځو
تر غرو هسك د هسك پر لورې
د لمرینو سپینو وړانگو
د سپیڅلي پاك مزدك تر عرشه پورې !

ننگرهار ، ۲۶ – ۹ – ۶۹

څانګغوڅ بلبلان

هسې راوستم بيواکه
منګنۍ سرې سيلۍ

– لکه بنېکه –

تر سپيرې ډېرۍ د خاورو
ستا دوران کلي کوڅې ،
د تالا وا لا باغچو
د سر پرېکړو لوڅ لېږو ونو بوټو
د چوپتياوو تر وربويه
راڅي غوږ ته د لار ورکو نهيليو
سوي سوي زګيروي ساندې

له غرېو نيولي کومي
د نا پايو تور تمونو .
د اسمان د لاجوردي شينکي لمنې
په ورشو کې
تندرونه دي را گډ د بوږ نوړو
تورو وريځو ...
بس همدا د وېر کيسې دي
تل بهاندې د دې غرونو او سيندونو
د فرياد فرياد پر ژبه :
چې ترڅو به گليونونه وي په برخه د کارغانو
او په وېر گډې گلپيغلې د ځانگفو څو بلبلانو !

ننگرهار ، ۲۷ - ۹ - ۶۹

پیلامه

PROPERTY OF ACKU 3492

یوه غلې شان سلګۍ راځي ورو ورو
لکه لمر ځیره
د سپیدو د ګلکځونو
پر زخمي ژوبلو ځانګونو د شیبو د نهیلیو
د تیارې شپې د ځنګله د مړې چوپتیا
له ژور کومي .

* * *

په ساړه سمخ خوګلن د مړو ایرو کې
د وختونو د ستي سوو نغمو
اخلي سا یوه نیمزالې مینه وړې شان تودوخه .

* * *

په رګو د وچکالۍ د خړان زمولو ګلبڼو کې
پیلامه د نوي ژوند د ټوکیدلو
لکه وینه د باران د ښیرازۍ د پسرلي
په چلیدلو ده .

* * *

یوه انګۍ د ویر فریاد د غره په زړه کې
خپروي نوي د ژغور د برم څانګو نه
لکه ربړه د الوت د وزرونو
د ښها څمن ګور بټ د پارو پامیزاد .

ننګرهار ، ۱ - ۱۰ - ٦۹

ګله مینه

ستا د پېښو خاورو له عطرو
را زرغون زما د ژوند تول پسرلني شول
اود ا ستا د: اننګيو له سرو ګلو
زما مړاوی ترمې ترمې رژېدلی زړه
باغ باغ ...
اوس نو پرېږد ه
چې را ووري د ا عطرونه او ګلونه
– په ملتیا د لمر د وړانګو –
پر وربوی د سپېڅلتیا د سباوون زما او ستا
د ګلې مینې
– تل لپاره !

ننګرهار ، ٥ – ١٠ – ٦٩

خوب

ستا د گل بدن له عطرو
پر پاسته وریښمین پالنگ ستا د سینې وږم
مست بیسده خوبولی
له ماښامه تر سهاره ...
تر څو ...
ستا د لمر ښایست زرینو وړانگو
ستا د گل مخ سباوون په رڼو پرخو
له درانه خوبه را ویښ کړم
او شوې هله مې روڼې خوبوړې سترگې
په تلپاتې تورتم روڼو رڼاگانو .

۲۲ - ۱۰ - ۶۹

صنښت

لکه خزان زموللې پاڼه ،
را پرېوتې د نیستۍ پر تورو خاورو .
لکه د یار په نوم اوښلې غونچه
چې د ریبار په لاس کې ترمې ترمې ورژېږي .
لکه کوبۍ د زړه چاودون له ویرې
برخلیک یې بار د سمندر پرڅپو .
لکه یو ماته بې ماڼو او بې ګودره
لاهو شوې بېړۍ
په مړ څپانو څپانو کې را سنکیل .
لکه چاودلې سیپۍ
چې مرغلره یې په هار کې کله نه شي
د پیبیلو جوګه .

لکه د تورې شپې له سترګو څڅېدلې اوښکه
د سپين سپيڅلي سباوون پر ګرېوان .
لکه د لمر د پلوشو په پښو کې
د کنګل واورو له ليمو را بهېدلې اوښکه .
لکه د نيمو شپو لار ورکی پرديس
چې هيڅ پوهيږي نه ، څه وکړي او
پر کومه ولاړ شي .
لکه له ګور ته الوتلی غشی
چې نه پر موخه لګي
او نه جاروځي بيرته .
لکه نيمګړی يو خوب
چې يې مانا تعبير کيدلای نه شي .
لکه د شګو پرمخ
شي په بهير کې د سيليو د پښو پل
چيرې وران .
لکه يو ووړ اور کی چې کله
د شپې په تور ځنګله کې لار ورکه کړي .
لکه وږمه د بيديايي ګلونو
چې شي په غيږ د بړبکو کې زنده .
لکه ځانګغوځ خاچوړی
چې په اسره د سرو ګلونو يې په ستوني کې
نغمې وچې شي .
لکه اور پښتی وزر سوی پتنګ
چې تر لمبو نور کېدلای نه شي .

لکه نیمزالې وېلې شوې شمه
وهې وروستۍ وړې سلګۍ د ژوندون
یا لکه هغه شپه رونډلې ستورې
چې له لمر څوك سره څلاو بایلې .
لکه د زیړې زرغونې رنګین ټال
چې په توپان کې شي له سترګو پنا .
لکه نغاړلی یولیك
چې چا پرانیستی او لوستلی نه وي .
لکه سرود د نیم بسملو پرخوله
چې یو نیمژوانده ګونګوسی غوندې شي .
لکه د چا د ناز د پلونو مینه وړې سبکالو
چې په ارمان د اوربدوبې مین زړونه ربې .
لکه د وصل لنډه تنګه شیبه
چې ډېر رازونه شي په زړو کې د مینو
نا ویلي پاتې .
یا په ګوګل کې یو مین بیلتون ځپلی زړګی
چې شي راتلو ته د مینې سانیولي پاتې .
یا د ویرژلو غریو نیولی فریاد
چې د لوی خدای تر عرشه ونه رسي ...

هسې یم زه ستا تر وربویه نیمه خوا راغلی،
اوس نو دې خوښه چې منې مې ، که نه ؟

ننګرهار ، ۱۹ - ۱۱ - ٦٩

زما شعر

شعر زما د ولولو په مرغلین پیبلی ،
دا د احساس په تول وتال تللی .
دغه زما د زړه له کومي را وتلی اواز ،
دغه زما د گوگل سوي څړیکه .
دا مي د رزم و بزم ،
دا مي د خوب او د سبکلا ستایوال .
دا مي د درد او د خوښۍ ښکارندوي ،
دا مي د کرکې وینې مینې یو رښتینی انځور .
دا مي د زړه او ذهن ،
دا مي د روح او د روان یوه رڼه هنداره .

دا مې دانګ ،
دا مې د ژوند ،
دا مې د سول و سوچ و خيال يوه ويانده ژبه ،
دا د مهال او چاپيريال يوه اورينه ژبه .
زه د خپل شعر په نازکو ګوتو ،
د سپوږمۍ ستورو له زرينو وړانګو
د چا وربل لړه پيبوي اوبم .
زه د خپل شعر د پسرلي په وږمو
را ټوکوم د چا شهيد له سرکو وينو
سره لاله ګلونه .
زه مې د شعر د نسيم پر اوږو
سترګې پر لار بلبل ته ،
د ګلغوټۍ د ناسپړلي زړه پيغام ليږدوم .
زما د شعر په وريښمينو پلور ګونو کې ده
وينه د ژوند وښيرازۍ
او د باور بهانده .
زما ژمن او استازګوی شعر ،
دا مې په تار د اسویلو او زګيروو
د وينو اوښکو یو غړلی امیل .
دا مې د سوزو د ساز ،
دا مې د هيلو نهيليو تفسير ،
دا مې د رازو د نياز ،
دا د اوږدو اوږدو خوبونو تعبير .
دا د بې شميرو وير ژړلو وير نتلو ساندې ،

دا د پیړیو د نا پایو گونگوسیو فریاد .
دا رسا غږ د پریکړ شوو ژبو ،
دغه شور زوږ د زندی شوو ،
غریو نیولو ستونو .
دغه د تورو تیارو گورنډو رڼا ،
دا د تیارو تورو کوډلو ځلا .
دا د بو خلیك د گناهگارو لا ربه ،
دا د سبا د سره گلبڼ د ټوکیدلو زیری ،
دا د پاکۍ او سپیڅلتیا ، رښتینولۍ انگازه ،
دغه د حق و حقیقت د لمر وړانگینه جلوه ...
دغه زما او دټولنې د وجدان گډ اواز ،
دغه د غم او د سروریو بې انجامه اغاز !

ننگرهار ، ۲۲ - ۱۱ - ٦۹

زما ښایسته کونړه !

==*=*=*=

یه زما ښایسته کونړه ،
یه زما ښکلی ارمه ،
یه زما د زړه ارامه !
نه یې ،
نه یې
ته ټاپو د جزامیانو ،
له ودانې ودانۍ نه کوښی پاتې !
ته هماغه مرغلره یې گرانبیه ،
راوتلې له سیپۍ زما د زړه نه .
ته زما له زمول گلبڼه

جلا شوې ګلغوټۍ يې ،

ته زما له ژوبل پڼي نه پرې شوی

يو اندام يې .

ته زما له دړې وړې او ټوټې بيړۍ

بيل شوی هغه تير يې

چې بې تا نه نه رغيږي .

ته زما له سرو ليمو يې څڅيدلې يوه اوښکه ،

ته زما د سترګو کسې .

ته زما د سر له خوله را پريوتی

يو ځلانده تک سور لال يې ،

بوږ نوړی، تور ښامار د بربريت هسې نغرلی .

ته زما د برم د هسک يې

نوراني سپينه سپوږمۍ ،

د بوږ نوونکو تورو بلو

په کوهي کې ډوبه شوې .

ته زما له لوی تاريخه بيله شوې يوه پاڼه ،

ته زما د لوی کاله د ديواله له قاب

پريوتی يو انځور يې ...

* * *

زه دې وينم ،

را بهيږې له ((راسا)) دې

سيند د اوښکو او د وينو ،

پر ګريوان باندې مغ کښته

له کيرالې تر ورسکه .

د پیرۍ د تور تمونو د تور اس تر سوږ لاندې
یوه لتاړه جغرافیا یې ،
یو مرور‌لی شان برخلیك ،
یو بلهار د منځنیو مهالو د گروه پلټنې
او د وخت د صلیبي مخامختیاوو ...
ته د ((سره)) او ((تور)) وحشت ، ناتار د ژرندې
د دوو پلو په منځ کې دل یو واقعیت یې
چې مرگ پاڼه ده د دواړو
ستا په خپل لاس لاسلیك شوې !
نه شي ،
نه شي ،
هیڅ یو ځواك تا نشتولای ،
نه دې مانه بیلولای ...

* * *

هو ،
زه اورم لا درزا د زخمي زړه ستا ،
لا بهانده په رگو کې دې د پړي د ژوند وینه ...
خپسکه د زندۍ که را پرېوتې پر سینه دې
خو ژر ورانه به یې پزه د سکرو شي ،
که یې ناست د مرگ پر پوله
او نیولی په ورغوي کې دې سر دی ،
خو بیا هم ورکړې تا مرگ لره ماتې !
تا کفن له ځان نغاړلی
او دانگلي دې د وینو سمندر ته ...

خو په یاد لره چې وخته
لا د لمر د ا هورا په تیره توره
سر خوړلی اهریمن دی .
چې بې تا لره نیولی و پڅونې ،
اوس هغه را پرځیدلی د نیستۍ پر تورو خاورو !
تا ایستلې ده له وخته ،
ژغور بیړۍ له خپلو وینو
را زرغونو ګلکځو ته ...

په زما ښایسته کونړه

په زما ښکلی ارمه ،

په زما د زړه ارامه !

ننګرهار ۳ - ۱۲ - ۶۹

داوښکو ږنوب

د مهال د پسرلي په زېړي ګرو شنو شيبو کې
توتکۍ د پاکې مينې
خپروي د هسك پر لورې
د الوت د برم ځانګونه .
نيمه خوا بلبلان وينې
په هنداره د ږنوب کې د شپنيو تړمو اوښکو
د باور د سباوون د رنګينيو
د ځلميو تکلونو مرجاني سره بهيرونه ...
او زه وينم
ستا د سترګو په څپاند مست سمندر کې
چې لاهو ماته بېړۍ مې
د پيغلوټو مينه وړو ارزوګانو
- لا هغسې -
د ښکلا لارې ګودرې ،
ګلکځونه پسې نغاړې .

ننګرهار ، ۲۰ - ۱۲ - ۶۹

د سپېدو سېند

يه د پسرلي هستي ښندونکې خيالولې ورمې ،
يه د زړه وړونکې ښکلا
او خوږې مينې نغمې !
چې پر ګوګل د کاڼو
تك سره بامې ټوکوي
او پر بستر د اغزو
تك سره غاټول ګلونه ...
لږ خو زما پرچم هم ولګيږه
پر خزان زمولو ګلکڅونو زما ،
پر تالا شوو ګلبڼونو زما !

*　*　*

لږ خو پیغام د بنیرازۍ
د وچ ښونه غوز ته مې ورسوه
لږه خوږو کړه
د شمشاد په مړو رګو کې مې سا
لږ د نارنج له پرنډو وینو نه مې
زیړو زبیښلو اننګو ته مخسوري وښه !
* * *

لږې خو وشاربه
زما پر هسك دا تورې وریځې ،
وچې چینې کړه د باران را تاندې !
چې پر سپیرو شونډو د وچو جلوهلو میرو
زمولې غوټۍ مې د موسکا تك سره ګلان وسپړي.
* * *

نورې مې وولږ د سپیدو په سیند کې
د تورو شپو ګردونه
چې مې رانه سپین سهارونه د رڼو امیدو
نور له درانه مومیایي خوب شي را ویښ
او پلوشو لره د هیلو د لمر پرانیزي د مینې غېږه !

ننګرهار ، ۲٤ - ۱۲ - ٦۹

د ګلو کروندې

په پیرورو سپرلنیو وریځو !
پام کړئ چې هیرې نه کړئ ،
لاندې د ځمکې پرمخ
دا کروندې د ګلو ...
چې خړوب کړې تاسې ،
را ټوکولې تاسې
او پایې اوس هم

ستاسې د لورو ښنباندې په هیله !

ننګرهار ، ۲۵ - ۱۲ - ۶۹

د مرغلرو باران

هغه څه چې

- له مردونه -

تورو وریځو

پټ په زړه کې وو ساتلي ...

بریښنا ، تالندې

- ناڅاپه -

هغه ټول رسوا رسوا کړل ...

او د ورتو ورتو اوښکو په بڼه یې

- پر ګریوان د هسک د ځنډ -

کړه راتوی لکه باران د مرغلرو !

ننګرهار ، ۲۶ - ۱۲ - ۶۹

زيرى

زيرى ،

زيرى

د ځنګلو او د باغو سرلوړو ونو !

چې تېرونه د دښنو مو

نور پڅ شوي ،

زنګ وهلي

او لوېدلي دي له غوڅې ...

نور به نه درغوڅوي څانګې ، ښاخونه ،

ما په غټو غټو وليدل چې پرې شول

آ لاسونه چې يې تاسې پرېکولئ

او پر سپينه رڼا ورځ يې .

د مرګ کومې ته سپارلئ ...

ما په خپلو سترګو وليدل ،

مختور شول

چې يې تاسې د باروتو په لوګو مختورولئ ...

نور به نيټ مو د خزان سيلۍ ته نه شي دنګ سرونه ،

نورخوراك به د اور نه شي ستاسي پلې ، وژي ، هلونه !

ننګرهار ، ۲۷ - ۱۲ - ٦۹

واټن

زما ستا ترمنځه پروت
که لوی واټن دی ،
سره ټینګې یو له بل مو د زړه مراندې
او په خوب کې یو ، کړی‌شپه
زه او ته غاړه پر غاړه ...
خو پر سپینه رڼا ورځ یو
یو له بل ځنې جلا ،
یو له بله ځنې لرې ...
ایا مینه ده
کوم شرم یا ګناه
چې یې پالوبه په پټه تل ترتله .

او یو لرې به همداسې یو له بله ؟

ننګرهار ، ۲۸ - ۱۲ - ۶۹

غاټولو او ریډیو ته سلام

زما سپېڅلې مینه
د اورو وینو له څپاند سمندر پورېوته
او ویې نغښتې خونړۍ ،
مرګانې لارې ټولې
په سره ویلوب کې د پولادو سرپو .
زما سپېڅلې مینه
له سره بیرته بیا را وزیږېده ،
د تعمید غسل یې په چینه د ژوند اوبو کې وکړ
او ونیوه یې هله
د خپلې بیا را زیږېدنې جشن

د ا فرود يتا په سپيڅلي جنتي حرم کې .
زما سپيڅلې مينه
لکه سپين نمرې پرښته د وحې ،
- په وزرونو د قدس -
د لمر د خدای تر عرشه
د هسک پر لورې الوتنه کوي ...
چې بيا د لمر د سپينو وړانگو په لاس
- لاندې د ځمکې پر لور -
درود و سلام را واستوي سرکو غاړولو
او ريديو لره .

ننگرهار ، ۳۰ - ۱۲ - ٦٩

د سپیدو په ورا کې

\- ۱ -

یوځه پیښن شول
یوځه واخیستله تومنه
په زیلانځ د زمانې کې ...
چینې تاندې شوې په زړونو کې د کاڼو ،
شینیلي وږوکول تبجنو دښتو ،
تا لا شوو سوو سوو ګلبڼونو
وغانځله زیږیدنه د نوزیږو ګلغوټیو .

\- ۲ -

یوځه پیښن شول
لکه راز ،
لکه رمز
اوته راغلې لکه ناوې
د سپیدو په سپینه ورا کې
له سهار سره همغاړې ،
سرې غوټچې غاړول په لاس کې
دا زما د زړه حرم ته ...
په زما د مینې برمه ،
په زما د زړه میرمنې !

ننګرهار ، ۱ - ۱ - ۷۰

هغوی ...

هغوی کفن پرغاړه ...
چې یې وسکښتی اوښکو وینو نه خپل ،
چې یې ګنډلی و د زړه په مراندو
– د شهادت سپیڅلی لیك پر تړندو –
ور ودانګل د توري شپې پر غلیا ککرو باندې .
هغوی د اورو وینو
او د پولادو سرپو
د سره ویلوب له هستي سوزې بوږ نوونکې لارې
– په بدرګه د پاك ایمان او د سپیڅلې مینې –
ور واوښتل د شنو شیبو د شینیلیو
تکو شنو درګو ته
او تر وروستۍ سلګۍ د مرګه پورې
د سباوون د سره ګلبڼ تر وربوی ورسیدل ...
سخ د سپیدو او د لمر ښار پر لارویانو باندې
چې یې غمیو د سرامنو اوښکو
خول کړ جړاو د تاریخ
او په سروب د وینو
یې کړ رنګین نوی پړاو د تاریخ !

ننګرهار ، ۲ – ۱ – ۷۰

د خوست د شهیدانو سپېڅلو ارواوو ته :

د وینو ګل کر

ولې ولې پسرلیه!
دا دې څه چارې را وکړې ...
نور کله خو به راتللې
لمن ډکه له ګلونو ،
ولې راغلې دا څل هسې
څولۍ ډکه له سرو وینو ؟
موږ خو ستا د رنګینۍ او مخسورۍ په نامه ډېرې
دروږ کړې اسطورې د شهادت وې ،
موږ خو ستا د ښیرازۍ او سمسورۍ په نامه ډېرې
وې ښیرازې تاندې ویالې کروندې خپلې ریبلې ،
موږ د خپلې ښتیانۍ سپېڅلې مینې د ازمون او زبات لپاره
ستا په پښو کې ډېر سرونه وو ښندلي
اود خپلو تکو سرو شهیدو وینو په ګل کرمو
وه لمن ستا له بې شمیرو سرو ریډیو او بامیو ډکه کړې !!؟

۱۹ - ۱ - ۷۰

د باور آيتونه

ستا د زړه وړونکي برند ښايست د ښکالو
خواره خواره ويېونه
شي انګازې انګازې

- لکه سپيڅلی سرود -

په شنه ګومبز کې د مزدك د پاکې مينې زما
تا د شپېنۍ چوپتيا کنګلې شيبې
کړې د باور د سباوون د لمر په وړانګو ويلې
او د ويرونو توري لړې ، ګردلې دې ټولې
کړلې زما د سرو ګلونو له چمنه لرې
تا د سپرلي غونډې زما پر ښوره چنه بيديا
د اميدونو تلبيزاره کروندې راشنې کړې ،
ودې ژغورلم له ګړنګ د نهيلۍ څنې زه
او دا دی اوس مې د هستۍ بود تون

- لکه رون ذهن د اسمان -

شو د باور د آيتو په ښايسته ستورو وړانګين .

۲۱ - ۱ - ۷۰

زه به ولاړ نه شم

زه هغه ځانګغوځ بلبل یم
چې به هیڅکله پرې نه ږدم
خپل تالا والا ګلبڼ مې ،
دا وران کور او نهیدلې زړه ځاله
که هرڅو پکې کارغان د تور وحشت کړي
الوتنې ،
که هرڅو اهریمنان د تورو شپو پرې
واکمني کړي
او هر خوا پکې خپاره دي تور دامونه
د تور زړو وینو څښونکو صیادانو .

*　　*　　*

زه به ولاړ نه شم هیڅکله
له دې ترمې ترمې زمول او
له تالا ترغۍچمنه ،
که هرڅو دې د باروتو له زهرو به زهر ژلي
اود سرپو او پولادو په ویلوب کې لمبیدلي
که یې ځمکه راته اورده
او راووري یې له هسکه تندرونه ،
ویه نه لیږدم هیڅکله
له دې خپل ویرژلي بنه
له دې خپلې ورانې ځالې ...
زه ولاړ په تول ایمان یم
د توپان مرغه په شانې
هر یو تیز ،
هریوتوپان ته د وختونو د ناخوالو ،
ناتارونو
چې راځي یوبل پسې پر دغه سیمه .

* * *

زه به دا شاړې ویجاړې
د بل چا پر طلایي پنجرو ورنه کړم ،
پرې به نه وځي زما د وزرو سیوري
د پردیو پر سمسور وګلکڅونو ،
ویه نه کړم الوتنه
د بل چا پر غرو رغونو ، شنو ځنګلونو

* * *

خدای دې نه کړي
چې دا وران کور گی او ځاله
همدغسې ډوب په اور - وینو کې پرېږدم
اود خپل پوازیني ځانگړي ځان د ژغور لپاره
بې پروا او بې سنې بدې ترې ولیږدم .
* * *

زه به وانه لوځم کله
له ایرو د دې چمنه ،
که به مرم ،
که پاتې کیږم
کور وگور مې دی همدغه ،
پرې ،
چې ولیکم خپل وران برخلیك په خپلو توښې شوو
سرکو وینو
او سمسورکړم دا خزان زموللی باغ په سپرلنیو سرو گلونو !

٢٤ - ١ - ٧٠

د سباوون په ذهن کې

په ځلانده سپینه لمره !
را ښکاره کړه مخ د وریځو له تیاره تور پیڅو له
اوکړه خپله تکه سره ایشنده وینه
په رګ رګ کې د پرتم د هسك را تانده .
د تیارو اهریمن وینم
چې د شپې له درې ورې مات مورچله
لا هغسې نا سپیڅلی جنګ پرمخ وړي
او تك تور تپلې ذهن یې
له لمر څرکه لا تشتور دی .
لا د شپې د تیارې تور زهر ځلیږي

د سپوږمۍ په جادو يي سپينزرين جام کې
د ارم د نيکمرغۍ د ښار پروره لا
زنګوهلی کولپ ځوړيږي د تورتم د تورو دربلو
او کيلي ده لا په واك کې د پيړيو د ديوانو .
په ځلانده ښکلي لمړه ،
په د مينې او ښکلا تلپاتې برمه !
ذهن مې ډك د سباوون کړه
د ويسا او د اميد په اوربنيو سپينو وړانګو
نور پرې نږدې چې هستي مې
د تيارې او د چوپتيا په زمهرير کې شي همداسې کنګل پاتې !

۲۷ - ۱ - ۷۰

د ملر ترانې

مه شه مه شه
بیا راغبرګ هغه تیاره تور مهالونه
چې له اخواد پېرېو د وحشت د تور ځنګله
راغځېدلي تور لاسونه
په سره اور ، تورو باروتو ، شنو لوخړو
د موسکا د نارنجباغ دروازې تړلې وتړې بیا
او پرځای د نارنجګلو د عطرونو
د سرو وینو سرې ویالې کاندې بهاندې .
بیا پرځای د سباوون د رڼو پیو
ملر ځان پرېوي د نرګسو د سرو وینو په تالاو کې .
* * *

مه شه مه شه

بیا را ماتې

هغه سرې سرامنې اوښکې

د ناخوالو ویر ژړلو سرو ګلولوړ وښکیو ...

نه چې بیا د تور مهال تورې منګولې

د ښایست د کاله پیغلې ګلغوټۍ کاندي

ژوندۍ ښځې پر ګور واړه له ځیلمې ...

اوکړي ډکې مینګې د بې ګروهیو

بیا زانګووي د سپیځلې پاکې ګروهې د نوزېږو .

را ژوندۍ مه شه

د ویر هغه مصلوبې مړې شیبې بیا

چې تور مخې دوزخي تورې اروا وې

ذهن ډك کړي د سپرلي د شینیلیو

د تور تمو تورو شپو له تورو لړو

او ونه رسي غوړو ته

د ښیرازو شنو ښونو او نښترو

انګازې د ترانو د لمر د وړانګو .

* * *

را سر مه شه

نور پر سیمه د څړمنې

منګنې ساړه بادونه

چې نیمتالې ناسپړلې غوټۍ وژمولې

له مخې ترمې ترمې

او دهرې تکې شنې پاڼې پرمخ کړي

ليك ويرنې د سپېڅلي شهادت د بېګناهو ترټکيو .
نه چې بيا غلبيل غلبيل شي په ړليو د ګرونو
د خرماوو ټټرونه
او را پرېوځي سرې ځالې د خاچونو
له ګلځانګو د ګلولو
د نيستۍ پر تورو خاورو .
بيا د شپې د تور وحشت تورې بوږې
بوړنوونکي تياره سيوري
را خپاره کړي د کسات رخې او سخې
د سبا د ناوکيو پر لمرينو ګلکڅونو .

* * *

زه باور لرم هغسې
د سپرلي د شينيليو ، نارنجګلو د عطرونو
د پيغام پر رښتينواله
چې د رنګې د تورې شپې د طاغوتيانو
نورې ليږدي پر وزرو د پرښتو د لمر د وړانګو
د ناچيرې نشتاباد د ګور پر لورې
او پاکيزې له زيلاتځه د سپين سرې زمانې نور
د کينې او مرګ وژونکې قول بوين خوسا تخمونه .

۲۹ - ۱ - ۷۰

پسرلنی

زما د زړه پر جلوهلې دښته
نور پسرلی سبیرازې نه لوروي ...
نه یې د تنبدې فریاد
تور غوریو وریځو د اسمان ته رسي،
نه یې پیغام تر خورو غاړو د خاچونو د باغ .

* * *

لاس می د نیاز نیولی

د ((اندر)) و ((نوم)) او د ((فلورا)) خدایګوټو (۱)

د پسرلي د سمسورۍ او ښیرازۍ دربار ته :

ګونډۍ زما د زمولو زمولو ارمانونو ورشو

کانډي را ډکه له تنکیو شینیلیو څخه ،

له تاندو تاندو ګلغوټیو څخه.

* * *

لا خو زما د تري ذهن زبلائځ

– لکه خورو وړمو شاړیلی چمن –

دی ییبرور د غوړیدا له څوبه

د پسرلي د رنګین شعر له ګلوییونو څني ،

د سرو لاله وولالونو څني

۱۲ – ۲ – ۷۰

---

(۱) ((اندر)) او ((نوم)) د پخواني نورستان د ښیرازۍ او ییبرو او ((فلورا)) د پخواني روم د ګلونو خدایګوټې وه.

ناباوري

څنګه باور د پسرلي د ښیرازۍ

پر رښتینوالي وکړم ؟

چې د باران د ژوند ښښونکو رڼو څاڅکو پرځای

د هسك له سترګو سرې سکروټې وورې ،

د لونګ بوټو د وږمونو پرځای

له غرو رغو وږم د وینو راځي

او له زمرللو ګلبڼونو څنې

د تاند لبانو ګلغوټیو جنازې را وځي !

* * *

زه وژان پرخلیلک د شینیلیو ژارم
چې د پسرلي د شنو شیبو ارمان یې ونه ختنه
او په رگو کې یې د ژوند وینه ونه چلیده ...
توندې سیلۍ د وچکالۍ زر غانه پرې نه ښوول ،
پاتې له مرگ شول د ریدیو یاقوتې خوبونه .

* * *

نور د کړونګو غریو نیولې ساندې
تر وچ کللک ذهن د ګاګرو نه رسیږي
او ژبیږیکړي بلبلان د چمن
نورې نه بولې سپولنۍ سندرې ...
نا باوري د ښیرازۍ د دې غومنې ژارم .

۷۰ - ۳ - ۳۰

تیر هیر

ما ته کیسې د زهر ژلو تورو شپو او بیلتانه مه کوه
ما ته کیسې د خوږو ورځو د رڼا او پخلاینې کوه
زما زړه زور نور د ترخو شیبو د زغم نه لري ...
راوروه مه نور زما پر جلوهلي ذهن
د اورو وینو د یادونو باران .

* * *

پریږده چې واوړم
ستا د سترګو د ککیو له بڼ
عطر د مینې د وږمو د ګلو،
لکه کوکۍ دې د ښایست له ګلکځو وچورلم
ستا د نازونو د ګلیون په مینه .

* * *

نه غواړم نور
چې ګلوپیونه مې د شعر د ګلبڼ
شي د اغزیو د پولیو بستر
او پرې ویدې شي ستا د مینې تیرې هیرې خوږولې نغمې .

ننګرهار، ۲۶ - ٤ - ۷۰

د سبرونو نڅا

-۱-

د سکنهلي تور ماښام تر تور تیاره پیڅول لاندې
د اغزیو ، درگو ، دربو ،
د کرکنو او سپلمیو
د تور گور ځنگله په منځ کې
سم پر تورو ورانو شاړو ، کږو لارو ...
اخوا دیخوا لالهاند په تیندکونو
غورځیدم وپرځیدم تپریدمه .

-۲-

د تاوده دوبي له تاره
- تا به ویل -
له هر بوټي ، هرې غنې

سرې لمبې د اور جګېږي ...
له تبجن لوغړن دوپه
غوړېږ نیولی د باد ستونی .

-۳-

نا بېره هلته وړاندې

- لوېدیځ خواته -

رڼا و بربېښوي ستړګې
د تورغر له شا سپوږمۍ وررو ورو راخیژي ...
د نیمزالو پلوشو په عطرو مینځي
توري دربلې د تیاره ماښام له مخه .

-٤-

د سپوږمۍ ، ستورو رڼا ته
د سپین غرو او ربنې څوکې په موسکا دي ،
سره وزمه شان وړمه یې راخپره پر غاړو مورګوږ
شاوخوا بس یو سپین پرک رڼا رڼا ...
د تورغر له توره ذهنه
توري لیکې د تیارو نوري پاکیږي
او زه بوخت تر نیمې شپې
په ننداره د سپږ وتو
چې سپوږمۍ ته په هنداره د چینې کې

په مکیز مکیز نڅیږي .

سلطانپور ، ۲۶ - ٤ - ۷۰
۲۷

پر وچوبه ایمان

د وچکالۍ تودې سیلۍ
د باغ د ونو سپرلنۍ هیلې تالا والا کړې
او د میرو د نهیلیو دوزخي تودوخه
تنکۍ ورشوې ، گلکځونه گواښي .

* * *

نور نه وینې د شینیلیو زرغا
د شنډو وریځو په وریښمین بستر کې
د بنفشي باراني څاڅکو هنداریز خوبونه
او د ویږ ژلو بلبلانو د نغمو پر اوږو
له زمول گلبڼ د تاند لبانو ځوانیمرگو
گلغوټیو جنازې راوځي .

* * *

د سپړنې سپرلي ناخوالې ژاړم
چې یې د گلو ، شینیلیو پرځای
د بڼ لمن کړه له اغزیو ډکه
او پر وچوبه یې ایمان راوړی .

۱۵ - ۵ - ۷۰

د سباوون تر کلي

ما نغښتې لار د نشت اباد د گور ځنګله له منځه
د څپڅپاندو تکلو د بوړنوړو ګړنګو له کومي
د نهیلیو د ځلوب د سمندر له تله
د ژوند ښېونکو سرچینو په هڅه
ماله ساړه سمخ ګوګل د چوپتیا
زمولې غونچې د ترمو ترمو اسویلو اوښتې ،
ما د بلهارو ارمانونو له شهیدو وینو
د پیغلې مینې په وربل کې سره لاله ټومبلې .
زه د سپوږمۍ د اوږدو ځنو په ټال
له توري ګورنډې د ویرونو د شپې
یم رسیدلی د سپیڅلي سباوون تر کلي .
ما له تور ذهني لنډ تنګ قابه د ((زه))
پرې ایښي ډیر ستړي ستومانه واټونونه تر شا
د ژوند اوبو د تلهباندو رڼو بونو پرلور ،
د ((موږ)) د مینې ارت جهان د ښیرازۍ د ګلبڼونو پر لور

۱۸ - ۵ - ۷۰

پیغام

سپینو کوترو د بامو پر سرو
په خپلو سرو مښوکو ولیکل چې :
څوك به تر ((غرو)) زموږ د مینې پیغام ورسوي ؟
کلونه وشول ،
له اخوا د اور لمبې بلیږي
او را سوځي مو د الوت وزرونه !

۱۹ - ۵ - ۷۰

((...))

مور خو د دوی په خوله کافر یو ،

– نعوذ بالله –

نو دا دنیا راته زندان

ګرځوي څله ؟

ایا پخپله دوی کافر نه دي

چې دا سپیڅلې وینا نه نغوزي :

((الدنیاء سجن للمؤمنین

و جنت للکافرین)) !

۷۰ – ۵ – ۲۳

۲٤

زمولي پاڼي

د پاڼړو سیلۍ را ماته
د پسرلي پر ښیرازیو ،
ښوروي د ونو څانګې
رژوي زمولي پاڼې ...
پاڼې نه دي ،
شنې شیبې دي
چې رژیږي ،
راتویږي
د زمان له شینکي ښاخه

- ترمې ترمې -

د تاریخ پر منګنیو تورو خاورو ...

خو ،

زما باور لا هسې

د پسرلي د شینیلیو

اود سرو ګلو په شانې

تلښیراز و تلسمسور دی ...

زه ایمان لرمه بیا هم

چې لمرینې پلوشې

– هر سباوون –

زما د ځمکې

غریو نیولې سوې ساندې

یوسي شنه نیلي اسمان

د جاویداني سپیڅلتیا ته .

۳۰ – ٦ – ۷۰

د گلو امیل

ګلالۍ شونډې کړه موسکۍ لکه ګل
چې ورسره زما د زړه غوټۍ هم ګل وسپړي .

* * *

د بڼو چتر دې لړ جګ ونیسه
چې په څرخوب د سمندر کې ستا د مستو سترګو
د خپلې مینې د برخلیك ما ته بېړۍ ووینم .

* * *

د غیرې باغ زما پرمغ پرانیزه
چې پکې خپل تالا والا نامانا شوي ورك خوبونه
یوځل بیا ومومم
او کړم همتا ته یې ډالۍ لکه امیل د ګلو .

۷۰ - ۷ - ٤

ننني يادونه

له سپکالوو ، ستر ګلينو دي
د سپېدو ديوه بلانده،
له رودونو دي د سترګو
د سبا موسکا بهانده .

* * *

ستا له ګونځې ګونځې تندي
د باور آيات را زېږي،
ستا له مړاوو اننګيو
تاندې وړانګې را لونيږي .

* * *

د زېړ مخ له پلوشو دي
د لمر څرك باغچې رنګيني ،
ستا د زمول ښايست له برمه
را توديږي سړې مينې ...

* * *

نو ، زما د شعر په ژبه
د سبا درودونه واخله ،
د تاريخ موزيم لپاره دا د نن يادونه واخله !

۹ - ۷ - ۷۰

زمولې نغمه

ته مې لیمو کې یو تلپاتې ښایست ،
زه ستا په زړه کې یوه هیره مینه ...
زه ستا په ژوند کې د پسرلي زرغون ښېرازه سرود ،
ته زما ژوند کې د خزان یوه زمولې نغمه ...
ته غرونه غرونه چوپتیا ،
زه غرونه غرونه فریاد .

* * *

ما ستا په پښو کې ولونل د سرکو اوښکو یاقوت ،
تا وشړلم بینوا د ناز سنکلا له درشل ...
وټوکول ماله سرو وینو گلکځونه درته ،
تا مې د ژوند په سپیره دښته کې اغزي وکرل ...
زه له یو مخې ټول وفا وفا ،
ته له یو مخ ټوله جفا جفا .
* * *

ته له سرې سمځې گورنډې د نهیلو ارمانونو راځې ،
زه د سر تیرې ژوند جگړې د اورو وینو
بوربنوونکې اوږدې لارې نغاړم ...
ما کړه ځواني له تا ځار ،
تا مې ونه کړ تش یو یاد هومره هم .
* * *

ما دې د کرکې ټول ترخه په مینه مینه وځښل ،
ت مې د مینې ټول خواږه په اباسین لاهو کړل ...
ه د ککیو غمي کیښوول ستا د برم په خول کې ،
تا زما نوم د نشتیدنې پر کنگل ولیکه ...
زه غوړوم وازره د لور پرتا ،
او ته زما سیورې په تیږو ولې .
* * *

ستا د تیارو تور تمو شپو د رڼایی‌لپاره ،
ما پر سر اور لکه د شمعې تر سهره بل کړ ...
او تا زما د سپین برخلیك د تورولو په نیت ،
زما پر سپینو رڼو ورځو تورې شپې راوستې ...

زه زیریګر د سباوون د غوړېدو د موسکا ،
او ته منکره د باور د پلوشینو شیبو ...
لیږ دوې څو به پر اوږو ته د وهمو
د زنګوهلي ذهن
د تیرو هیرو ارمانو مومیایي شوې د رنګې ،
ځان دې سپارلی د مرګ ژوند ترمنځه هسې
بې ترپیره د چوپتیا کومې ته
او د ویلاړ ماته بیړۍ دې
په څپو د څپانو کې راښکېل ...
راشه نور دا زاړه هوډونه پرېږده ،
لږ مې د زړه اواز ته غوږ کیږده !

۷۰ - ۷ - ۳۰

ترهیدلې ترانې

ګرانې ،
ته مه ویرېږه
چې د پانوړۍ سرو وحشي سیلیو
ویوغالل د پسرلي د ګلکڅو پر ذهن
او دتور ځمو تورو وریځو خیمې
کوي درنښت د شینیلیو پر نازکو اوږو .
که ته ځان ونه سپارې
خزان زمرللو نهیلیو لره
او غوږ کېښې نه ږدې د سرو کنګلو شپو
د لارو کوکو ته ،

منی به کله وکړي

او نړېدلو ورانو ځالو ته به

آ کوچیدلې توتکۍ بیرته را ولیږدېږي .

هو ،

که ونه بایلې ځان

- په وېرو نتلو خزاني شیبو کې -

او د پسرلي پر بیا راتګ پوره باور ولري

چې ټخنګه دکه کړي ځولۍ ستا د سبا له ګلو

او بیا خاچوړې ستا په غوږ کې د رښتینې

پاکې مینې ترهیدلې ترانې وېولي !

۵ - ۹ - ۷۰

زمولې شیبې

نا باوري د بنیرازۍ د دې چمن د شینیلیو ژاړم
چې په رګو کې یې زرغونه تانده وینه
کنګلیږي پسې
او په بهیر کې یې د زمولو شیبو
سرې سیلۍ د هستۍ ستونی مروړي .

* * *

ژاړم برخلیك د سپیدارونو د باغ
چې دنګې ونې یې ناپایه فریادونه دي
د هسك پرلوري
د ځار ځپلې ، ویر ژړلې څمکې
او د نیستۍ پر تورو خاورو یې
پریوتې ترمې ترمې رژېدلې پاڼې
د زندۍ زوبل پاك ایمان صحیفې ...

* * *

نا باوري د بنیرازۍ د دې چمن د شینیلیو ژاړم .

۱٤ - ۹ - ۷۰

د فرياد لاسونه

زه لکه هغه بيدياني ځانته ولاړه ونه
چې له مودو مودو يې
دي د فرياد لاسونه پورته د اسمان پر لورې
او په بهير کې يې د توندو خزاني سيليو
هره زمولې ترمې ترمې رژيدلې پاڼه
کړي د ناپايو ناتارونو کيسې .

* * *

زه لکه هغه وزر ماتې مرغۍ
چې په پانوېږ کې وي له سيل و کوچه مهاله پاتې
او څوروي يې د چوپتيا او ځانوالې ژمنۍ انديښنې .

* * *

اوه ،

دا به څومره واى له زغمه وتې ،

که دا نړۍ واى له يو مخې بيديا

او کال و سرتېول منى . . .

نه به پانړيږ وځلو ونو شنه خوبونه ليدلاى

او نه ځانګځوځو چونو

په اسره هيله د رنګينو پسرلنيو ورځو

د مني – ژمي د ناتاروېږلي شپې په شوګيرو رونلاى !

۲۸ – ۹ – ۷۰

ویرنه

په پخواني مسته مغروره اشنا!
پرتامې خوا بدیږي ،
پرتامې زړه سوزیږي
چې څه خیالي ښکلې ځواني دې هسې پرېښوده ترشا
اوډ خپل ژوند تر وروستي بریده سم ونه رسیدې ،
څه که دې ورځې د « کمون » کړی پر کلو بدلې ...
دا څه کانه در وشوه ،
چې راغوځار سر پرځنې شوې د غرور له نیلې
او کبرو ناز دې د ښایست شو نور له مرګه پاتې ؟
شو درپسې ګونډې ازار زما د ژوبل ازار کړې

مینه وري زړګي
چې دې سپاره هسې بې لورو بې سې بدې
د دښمنه وو پر لاس !
له هغه وخته چې تا زه پر سپین میدان پرېښوم ،
له هغه وخته چې دې نورو لره مخ او ماته شا کړله تا
او ما سره دې ګډ برخلیك ورته په واك کې ورکړ ..
تا د هغو په لمسه
کېښوده لومړی زما پرستوني چاړه
او بیا بې هله ته هم ایستلې
چې کړې په هغه چاړه پرې خپله مرۍ په خپل لاس !
تا خو نه زه او نه جهان وپېژاند ،
نه پردی خپل او نه خپل ځان وپېژاند !
هو ،
زه شومه ستا د کبرو نازو کرشمو بلهاري
او ته د نورو د دوکو بلهاري ...
داسې بینوم او بې نسبانه دې نړۍ پرېښووه
چې دې یو خاپ هومره د پلوهم ترشا پرې نه ښووه !
ماته اوس بې له دې نور څه پاتې دي
چې وژاړم دې ناځاپې او بې اجله مړینه
- دا په لوی لاس دې د خپل ځان وژنه -
او ستا د ورك قبر پرځای کړم اوښکې توې ،
پرویلې شوې پولادي مجسمه باندې ستا !

۲۹ - ۹ - ۷۰

کنګلې پرخې

کله چې زما د ځانلوالې له تبجنې جلوهلې
دښتې
د وزرو سیورې د باران د آلهې شي
پنا
او نور کړي مات د زغم سنګر مې
پا کلمنې اوښکې ...

چیرې یې ته د زړه میرمنې زما ،
کړې پر لور ستا د زړه ستنې زما !

* * *

کله چې پرېوځي ژمنۍ کنګلې پرخې
د شيبو پر زمولو زمولو شينيليو زما
اود تيارو تورې منګولې مې مرۍ
د سباوون د رڼو بونو مروړي ...

چيرې بې ته زما د مينې د ارم ښاپيرۍ ،
چيرې بې ته زما د تورو شپو روښانې دېوې !

* * *

کاشکې زه دومره پوهيدلای ګرانې
چې ته زما د بيلتانه ، يوازيتوب
په کنګلي شيبو کې
هلته د مينې د نوموړکو بلهارېانو د قبرو په خوا کې
– هلته يوازې له خپل ځانه سره –
زانګې د کوم يو تاند لبانده
د ناپايو انديښنو په تال کې .

۲۳ – ۱۰ – ۷۰

د ذس پر اوبجه

(۱)

څه خواږه خواږه وختونه ،
څه خوږې خوښې شیبې د ماشومتوب وې
چې زه - ته سره همغاړي
د خپل کلي شاوخوا ته لوبېدلو
لوګړن سپېره په خاورو ...
زړونه ډك مو له خوښیو
خولې مو ډکې له خندا وو .

(۲)

ته به وایې خوب لیدل وو
ورکتوب که ځلمیتوب و
که خواږه خواږه وختونه
که خوږی خوښې شیبې وې ...

(۳)

هغه هرڅه ولاړل تیر شول ،
بس یو یاد یې دی را پاتې
چې رابلوسي مې د ذهن پراوبجه
او د ژوبل زخمي شعر له لیمو مې
لوټوي د سرکو اوښکو مرغلرې .

۱ - ۱۱ - ۷۰

ځانله ځاني

څه وختونه ،
څه خوږې خوښی شيبې وې
کوروکلی به مو پرېښووه
په تکل د ګلکځونو د ګليون
په شيبو شيبو باران د پسرلي کې
په چکړو کې ليت پيت د کوځو لارو .

* * *

اخ ،
چې اوس له بده مرغه
را ورېږي ژمنی وېرژلې واورې
او زه ناست يم ورته ګورم
بې له تا ځنې
په دې ځانله ځانی کې .

۳ - ۱۱ - ۷۰

واورين شال

پر بستر د بیلتانه اوړم را اوړم ،
تسبتیدلی له لیمو ځني مې خوب .
له هندارو د کړکۍ ګورم بهر ته ،
اخوا دیخوا هسې بوخت په ننداره
په واورين شال کې د نغښتې ویدې ځمکې .

*   *   *

سپینې وړانګې د سپوږمۍ ولې
د کنګلې شپې له مخ د تیارو اوښکې
چې له ګورو سپینو وریځو
را ننيږي او ځلیږي .

*   *   *

هلته ورانديږ سپين سپيدار لغړ ولاړ دی ،
په زرينو سپينو واورو ېږ پسوللې
ښایسته زرینې څانګې .
تورو سپين او برګ څو سپي ېږ
تر روښان کنګل نيولي سيوري لاندې
ډوب ويده په درانه خوب سره همغاړي .

* * *

ټول جهان ارام ويده دی ،
هره خوا چوپه چوپتيا ...
او زه هسې نا ارام شوګير وهلی
پر بستر د بيلتانه اورم را اورم
ټوله شپه تر سپين سهاره .

۱۱ - ۱۱ - ۷۰

د سر باډللي شکور په یاد :

تویه تللي وینه

خوشې پر خوشې دې بیخایه
تویه تللې پاکه وینه ژاړم .
تا په دې هسې بې بنسته اټکل
چې دې بې شمیره سرښندونکي لاروې دریسې ،
په بوږ نوږو تورو شپو کې ،
په څڅوب د څپلو وینو
د ژغور لار د لمر پر لورې نغښته .
وغولیدې ته په ښکالو
د کوم بې پڅې ((چا)) د پلونو هسې
چې یې په غوږ کې هسې تشې اتکازې کړلې ستا ،

خو په رښتینه دې تر شاوه
ټوله لار تشتوره
او په لوی لاس دې وو وران پړي
په خپل ځان پسې ټول پلونه یو مخ ...
هو تا غوښتل د ګړنګ ژۍ ته
رسیدلی برخلیك
له آړینو پرځیدو وژغورې ،
خو شوې غوځار هم ته پخپله په یو سر
سر پر ځنډې آ د نیستي ګورنډې ته ...
ستا په دې هسې توبه تللې پاکه وینه ژاړم .

۱۸ - ۱۱ - ۷۰

د پنجرې ور

والوځه ،
کوچنوټې مرغۍ والوځه !
والوځه ،
کوچنوټې ښایسته ښکلې مرغۍ والوځه !
* * *

وردې د پنجرې پرمخ پرانیزم نور ،
نوره ته آزاده یې ،
هر خوا چې دې زړه غواړي !
والوځه ،
پر باغ و راغ ځنګلو باندې ،
ښکلو ګلکځو باندې !

* * *

ویوله ،

نغمې د مینې ویوله !

ځانته دې د ژوند ملګرې

هله بیا را ویوله !

* * *

هله بیا په ګډه سره جوړه کړئ

د درګو ، دنګو ونو په ښاخو کې ځانته ځاله مو ،

پیل کړئ ژوند له سره بیا

- په مینه ازادۍ سره -

زاغ و زغن مه پرېږدئ نور هیڅکله بیا خواله مو !

* * *

والوځه ،

کوچنوټې مرغۍ والوځه !

والوځه ،

کوچنوټې ښایسته ښکلې مرغۍ والوځه !

۷۰ - ۱۱ - ۲۲

ایمان

پرې ،
چې د سترګو ډيوې
– ډکې له تيلو نه د زړه د وينو –
ستا د راتللو په تور تياره بهير کې
بلې کړمه .

پرې ،
چې د ستورو د موسکا په الماسي غميو
ستا د اسمان د برې خول جړاو کړم
او په شپېنيو تور ټمونو کې دې
– په بدرګه دې د باور د سپېلو –
د لمر مزدك پر لورې لار رڼه کړم ...
زما د مينې پر پاکې‌باندې ايمان ولره !

۲۶ – ۱۱ – ۷۰

مروري خنداوي

زه نه يم نور د سري بيديا هغه نيمزالي شمه
چې په بهير د توپاني سيلۍ کې
د خپل برخليك وروستی پيغام
د مړو سلګو په ژبه وليږدوم .

□

زه د درنې سړې چوپتيا له کومې
يم را وتلې آ سرکښه فرياد
چې سمې غرونه ټول را ولړزوم
او خپل پيغام
- په ټول شور زوږ -
د کاڼو بوټو غوږ ته ورسوم .

□

زه پر اوږو د پلوشو ستا د بيساري سنګلا ،
د نهيليو د ساړه ستومانه ژمي پر کنګله مينه
د مرورو خنداګانو د سپرلي پر لورې لار لټوم .

۹ - ۱۲ - ۷۰

پسرلنۍ سيلۍ

يه توندې سرې پسرلنۍ سيلۍ ،
ونې بوټي مه شاربه !
هسې د سپرلي د زېږېدو په پار ...
خدايږده چې ترې څه زيږي ،
دوی نه خو د ګلو موسکانه زېږي .

*　　*　　*

نه جوړېږي ستا له دې شاربلو څه ،
ستا له دې ترورو منډو ترو ،
الوتلو څه ... .
هرڅه په دې باغ کې زهرژلي دي ،

سرپو او پولادو ونې بوټي
ور وژلي دي .

* * *

ستا په دې شاربنه ژوندي کيږي نه ،
سرې او شنې نغمې د پسرلی ترې
زرغونيږي نه ...
دوی خو دګلونو د خوبونو د عطرو پرځای
تکو سرو چينو د اورو وينو کې لمبلي دي ،
نه زيږي غوټۍ او بنجرې ځنې ،
نه زيږي ګلونه او ميوې ځنې .

* * *

ستوني د بلبلو دي لوېدلي د باروتو له رنجو څخه
نه شي غږولای د دې باغ
د زهرژلو سهوونو پر بناخو بانډې
سرې او شنې نغمې د پسرلي نورې ...
تور ناتار ځپلي په رګو د ژوند کې وينه ده ،
دلته يې وژلې له يومخ
په زړو کې مينه ده ...

* * *

مګر دا هم هير نه کړې شاربونکې سپرلنۍ سپلۍ :
کړې يوه نيمزالې شانې هيله
د دې مرې ځمکې ګرګل کې غځونې لا ...
ګوندې يوه ورځ ترې له کرلو سرکو وينو
د بلهارو بيا را وټوکي

سره او شنه سپرلي له تکو سرو شنو

گلبڼو سره ،

سرو او شنو تلپاتې ،

تلڅوندیو ترانو سره ...

ګونډې به وه ورځ شي

تورې خاورې د جنګو او د مرګو پر خوله ،

مټې بیا له سـره ،

دلته مینه او ژوند سا واخلي !

۷۰ - ۱۲ - ۱۷

د پلوشو څښې

هغوی په دې

– لکه دانه دانه غنم –

د خاورو غېږې ته خپل ځان وسپاره

چې د باور د بنیرازۍ د شنو شیبو

فصل را وټوکوي

او بیا د لمر د پاك مزدك د سپېڅلتیا

په هڅه

واچوي تال د پلوشو له طلایي څښونه ...

ځکه چې نه یې غوښتل

د نهیلۍ د تورې شپې د تور تمونو

په ناپای بهیر کې

خپلې هستۍ ته د نیستۍ ابدي

ټکی کېږدي .

۲۹ - ۱۲ - ۷۰

د موسکا څپې

راشه راشه پسرلیه ،
دې زما تالا والا ، خزان زموللي ،
ترمې ترمې رژېدلي وچ ګلبڼ ته ،
لوغړنو ګلکڅو ، شاړو میرو ، وچو رغځیو ،
مړاوو مړاوو بنجرو سوي چمن ته !
* * *

راونه سپموې نوره
بښاندي دې د باران د رڼو څاڅکو ،
د اوږدې سوزنده تندې په ګناه
د جلوځلو وچو دښتو !

پرې ،
چې وچلیږي سا په مړو رګو کې
د دې ځمکې
او راوسپړي له ځیلمې سره ریدې ،
غاټول ګلونه ...
له کرلو سرکو وینو د نیمزالو غندلغاړو ناوکیو ،
د بلهارو بې کفنو شهیدانو د وطن مې .
* * *

راشه راشه پسرلیه ،
دې ویړژلو ورشوګانو ، سر دروته !
د وږمې په پسته ګوتو کړه
زما د ګلغوټیو پر پټرو نیولو شونډو
د موسکا ځپې بهاندې
او په سرو شنو ترانو دې
د ځانګفو ځو بلبلانو
ګونګوړې زبې وباندې .
* * *

راشه راشه پسرلیه ،
نور را پریوه په چینو کې د عطرو
د شینیلیو .
د اور وینو غملړلي تیر یادونه !
نور پرې نه ږدې
دنګې دنګې سبروني
– سنګارندوېې د تلپاتې سنیرازیو –

بیا په پسنو کې د مهال د پانړېږو

سر پر سجده شي

او زما د سباځ ، ارمان او مینې پرم ته

چیرې بیا په کمه و کسي .

*   *   *

راشه راشه پسرلیه ،

په دې ورانو ویرژړلو کنډوالو کې

د هیواد مې

را خپرې بیا انګازې د امیدونو

د موسکا کړه ،

په تګلورې کې د خپل پسرلني خواږه نسیم بیا

سم و غر او باغ و راغ او ونې غنې

په نڅا کړه !

راشه راشه پسرلیه ،

راشه راشه پسرلیه !

۱ - ۱ - ۷۱

د څاڅکو ترانې

يوه غلې شان سنکالو

د ګونګو ګونګو ګونګوسيو

کوي نن په دې تالا والا ګلشن کې غځونې

د څانګغو څو بلبلانو ،

چې به نورې د عطرو پرځای سرې وينې

د نارنج د ګلغوټيو له رګو څخه نه څاڅي ...

دنګې ونې د شمشاد به

– په تبرو د کساتونو –

نورې نه را نسکوريږي ،

شنې شيبې د پسرلي به

نورې نه وي سور بستر د اورو وينو .

* * *

نه به بيا موسکا د سرو سپينو ګلونو

په لوګيو ، شنو لوخړو زندې کيږي ،

نه به بيا نغمې د ژوند د ښيرازيو

په مریو کې د چونو مرورل کیږي ...
د پسرلي د مګیږ به نورې
د تیرو اغزیوښخې ږمنځ نه کا
او وږمې به نور پر خپلو اوږو
نه لښې سوږ ووږم د بلهارو پرنډو وینو .

* * *

نور پر ځای به د سرو وینو د نیزونو
وي څپاند شینکي رودونه
– مست نڅاند رانه سیندونه –
او رنې چینې بهاندې .
ځړوبي به نورې نه بولي
– پر مرګ د تاند لبانو شهیدانو –
د ویر ساندې ...
نور به ستورې نه را ووري
د ویر ژلي هسك له سترګو
– لکه اوښکې –
په لمنه کې د دې بورې بدنامی ،
د دې ځار ځپلې ځمکې .
دا پر شونډو د مهال د پسرلي ناځې
زمزمې د پاکې مینې ،
هسې نه دي ترانې د رنړو څاڅکو
د شیبو شیبو باران د پسرلي نن .

درونته ، ۱۷ – ۱ – ۷۱

ترشابلونه

څه وړیا دي هغه بن د زماني توندو
سیلیو لره پرېښوه
چې له وینو یې د دنګو سپرونو
را زرغونو سرو ګلونو
د موسکاوو له سپرلیونه باج اخیست .
* * *

څه وړیا دي هغه لال د تور ښامار
په خوله کې ورکړ
چې و ستا د پاك ارمان د کان له تله رلوتلی
او دا ستا د زړه له وینو یې اخیستې
رنګیني وه .
* * *

څنګه غلي دي هغه د سرو شيبو مسته نغمه شوه
چې دا ستا د تاند باور له ژور کومي
راوتله
او په ټول بوم و پرتم يې
د ببرېو د چوپتياوو شنې ګومبزې
لړزولې
* * *

هغه سبکلی رنګين خوب دې شو پريله
چې به ګونګې
د بدوردې زمانې د کنډوالو پر سپيرو خاورو
د تاريخ په يوه ګوښې نا اشنا پواته ټاپو کې
د يوې سبکلې خيالولې شان مانۍ
دانوانې ديره کېدې .
* * *

ولاړې ،
ولاړې
په جګړه د بوږ نوړو تورو وريځو د وختونو
په تکل د لا سبوي د لمر د سيمې پړلوېجه
هسې رنګه بې پروا او بې امانه
چې کوهی ګړنګ دې نه راتلل له پامه
او هيڅ ترله دې زړه ته
نه لويده د ماتې .
* * *

ولاړې ،

ولاړې ...
دومره وراندې ...
په دې اندو په دې واند :
چې د سوبې او برې وروستۍ مورچې دې
ښکلې کړې د ښاخ غرور د نیلي سووې .

* * *

هو ،
ته ولاړې ،
پرمخ ولاړې
دومره لرې ...
چې څو بیرته راکتل دې
دویم کس درپسې نه و
او له ماتې سره لار دې وه
د تیښتې هم ترلې ...
څکه مخکې تا پخپله
په لوي لاس وو
ترشا پلونه ټول له مخې نړولي !

۷۱ - ۲ - ۲۷

توره کیږدۍ

ما ویل ،
چې ولیږدوم
دا خپله توره کیږدۍ ،
– لکه د ستورو بیړۍ –
د پلوشو په مراندو
هسکه د لمر تر وربوی .
خو د وختونو د تورتم لاسونو
مراندې کړې پرې
زما د تورې کیږدۍ
او کړه یې بیرته را نسکوره

د نیستۍ پر تورو خاورو باندې ...
اوس ،
هسې ناست یم
لاس تر زنې لاندې
چې دغه توره سپخیدلې ،
رنګه بڼکه را پرېوتې کیږدی
څنګه را ټوله کړم له تورو خاورو ،
څنګه یې وپېرمه بیا له سره
او پر خاورېنو څمکتې غولي یې بیا
ودرومه بیرته نیغه
د پښخوا په شانې ؟

پیښور ، ۱۲ - ۳ - ۷۱

پناوړی

ما د شپې له تیاره ښاره
خزان زمولي وچ چمن ته
پنا راوړه ...
اوس نو ،
څارمه د لمر د راتلو لارې
چې د خپلو پلوشو په تنابو مې
کړي له ځانه سره هسك
له تورو خاورو د نیستۍ نه
تا لا سبرو هسکو هسکو
شنو ورشوو ته د عرش د لارویانو .

پیښور ، ۱۳ - ۷ - ۹۲

د خوشال پر قبر

- ۱ -

سر را پورته کړه د ناز له درانه خوبه
د ویاړونو او برمونو د تاریخ د مخسوریو
له بستره !
لکه باز له سر درو د ویلاړونو
شاوخواته د نظر ژر کړه را تېښتگې !
لږ څه څیر شه د ایلم هسکو ستونځو ته ،
ته به وایې ،
د تعمید غسل په پار یې
د سرو وینو اباسین کې دي لمبلي .

- ۲ -

رالك څك دي کړه غوروونه
شور و زور د کابل سین ته
چې څه وایي اباسین ته ،

رنگین کړی یې له ځان سره په وینو
د سر غوټو بلهاریانو .
چې د اس د سوو گرد یې
لور اوه نه تا پرخپل مړیستون باندې ،
نن سبا یې ستا پر سیمه
د مرگ ژوبلې ،
اور و وینو ناتار گډ دی .
چې یې کرږو د ویر ژلو
پښتونخوا پر سر اخیستې
– له کنداره تر اټکه –
د فریاد لاسونه هسک یې
د زوی مړو ، بورو میندو ،
د پلار مړو ، بورو ورارو ،
د یزدان د سپیڅلتیاوو د لمرین مزدک پر لورې .
له رانه ذهن د هسک دې
– ۳ –
شپول د لړو د وهمونو را چاپیر دی ،
پر سینه دې د سپیڅلې پاکې خاورې
دې خپسې د گرومونو را پریوتې .
د مهال د خزانې سیلیو تور اسونه
کړې غوټې پر سرو شیبو د پسرلي نن ،
د نیمزالو گلکڅو پر اندامونو باندې .
– ٤ –
راشه ،
بیا دې د افغان په ننگ هماغه تاریخې توره

را واخله ،
مغولواله د پيړۍ ګوره چې څه کا ؟
چې ميوې به يې وي خوراك د شنو توتيانو ،
پوهځه کابل مغول

- لکه کارغان -

هسې بوغالي .
پرمال سر ، ننګ وناموس د افغان بلوسي ،
د وحشت غشي بي سکني هډوپلې د ننګ ميرانې .
پر هنداړو به د اوښکو اسويليو
د بوخليك ليکې ورکاړي
او له خپلو بهيدلو سرکو وينو
به ور او بي کفنونه .

- ٥ -

په لمبو کې د غم سوځې
لانده وچ له بوې مخې ،
لتابهيې ډير بې لوره
افغاني هستي په پښو د بربريت کې ،
را پرېوځې د بوم خول د « کرمنا » به
نور له سر ، سر له تنې پر تورو خاورو .
نن پرون به د تاريخ له دفتر مخ پر پاکيدو دی
او زمولې جغرافيا به
د نړۍ له نقشې ورو ورو محوه کيږي .

اکوړه ختك ، ٢٨ ، ٨ - ٩٢

د ښکلا ايولو

وختمه ،

وختمه

له دې وینې وینې پړې

د بلهارې بورې څمکې

د سپیڅلې سپینو وریځو د رنګین خوب

په بیړه کې

د اسمان د شینکي رود د شنو څپو

په باد بانونو ،

تیر له بریده د نړۍ د سپوږمۍ ستورو .

واوښتمه ،
واوښتمه
له ستونځونو د ناپایو شنو ورشوو
د جنت د ګلکځونو ،
د سمسورو تلښیرازو ګلبڼو له وربویونو .
والوتمه ،
والوتمه
د سپیڅلې پاکې مینې د سپینښرو پرښتو
په وزرونو ،
د لمرینو پلوشو په تنابونو ...
پورته ،
پورته
د ښکلا د اپولو په بدرګه کې
له خاورین تیاره جهانه ،
یو نابوم ، ناپیژندویه ،
د رڼاوو او ځلاوو
یو تلپاتې او یو نوي ، یو رنګین ښکلي جهان ته .

باړه ګلۍ ، ۲۰ - ۷ - ۹۲

د واښونو خزان

هغه ګلبڼ ستا د ښایست د پسرلي
ګلونه نه سپړي نور
چې تاند ښېراز مې تل ساته
د خپلې مینې د ارمان په سرو سرامنو اوښکو .
نوري زما د مینه وړو سرو اسرو له‌مېرو نه تیرېږي
ستا د موسکاوو د ګلونو د عطرو قافلې .
ته وا چې هیڅ به بیا را ونه ټوکي
– د واښونو د خزان پر سینه –
ستا د راتللو د ښکالو د شینیلیو تخم .
نه ښکاري نور دا ستا د پلو خاپونه
– پر ریګستان د نهیلیو زما –
چې کړې مې ویاړ
د ښکلولو د لیچنو ویر ژړلو ، سرو لیمو په برخه ...
راشه یوځل زما د مینې پر زمولي چمن ،
– لکه وروه د پسرلي د ښایست –
ورروه باران د لورو پیرزوینې دې بیا !

څنځیر کلا ، ۷ – ۱۱ – ۹۲

خام بندونه

رابهاندو،

راڅپاندو

– لکه نیز د مرغلرو –

د رنوب له تلیهاندو سرچینونه ،

د واورین ډبرین غره

له کراړه ذهنه ...

له ناپایو سر درو او ایلبندونو ،

تر ناپایو ګلکڅو ، پولو بریډونو .

را روان په غورڅو پرڅو ،

په مستۍ ،

په شنهار ...

کلکې ګاګرې ،
سپرخې پرښې یې له برمه
سوانیدلې ، سولیدلې
اوبړی‌وزمه

- تل ترتله ،

نه یې تم او نه ولاړه پیوندله .
ته پر مخ او رانغاړل یې پراوونه
هسکې ټیټې ،

کږې سمې ...

لندول یې بس ناپایه واټونه .
په تګلورې کې د ناز یې هرکلي ته
پسرلیو د سبکلاوو غوړول

شنه شنه فرشونه ،

د پښو ګرد لره یې تږې
تلښیرازې کروندې د تاندو هیلو

لوریینو

تلسمسوره ګلبڼونه د موسکیو رنګینیو .
څرخیدل یې د غورځنګ هرې څپې ته
- په هر پله او په هر ګام کې -
د هستۍ او یون خوځون

واړه څرخونه ...

چې ناڅاپه ،
نابېره
له کوم لورې

د ناچيري نشت.اباد د تورستان

د تورو پولو له اخوانه

د بوږنونو د تورتم تياره ځنګله

يو څو ببرو تورو مړو

کږه را کرنج د سباوون د رڼا مزي

او راويې يرغا لله د سپيدو

د ځپاند سيند پر ساتندويو سنګرونو ...

په دې خام اټکل

چې ګوندې

کړي د تور وحشت په تورو تيرو نوکو

او خپرو

جوړ د کاز په وچو خاورو ،

لنډو شګو خام بندونه !!؟

ځنځير کلا ، ۲۳ - ۱۱ - ۹۲

PROPERTY OF ACKU 3492

پوهاند دوکتور زیار او اثار یې :

زوکړه : ۱۳۱۷ ل (۱۹۳۷ م) ، حصارک - مزینه - ننګرهار .
زده کړه : حصارک ، کابل ، سویس (د پوهنو دوکتورا ، دیفل) .
دنده : د کابل پوهنتون د پښتو ژبپوهنې او ادبپوهنې استاد .
نورچاپ اثار : پښتو ویې پوهنه ، پښتو پښویه (ګرامر) ،
پښتو لیکلار ، پښتو شعر څنګه جوړېږي ؟ ، زنداني نغمې ،
وینه او مینه ، اندو ژوند ، سوزونه او سازونه ، ګلکڅونه ،
ګلولې ، پښتو نوموالترنګونه (په الماني) ، پښتانه او وروڼه
ملیتونه (ژباړه) ، د کنیشکا د سره کوتل ډبرلیک (ژباړه) .

بیه : ۲۰ روپۍ = ۲۵۰ افغانۍ
پلورځي : حاجی سوداګر (قصه خواني)
سید محمد کوڼړی
او عبدالمجید (جلال آباد)

د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه ۲